استقلال خپلواکی
www.esteqlaal.net

پوهاند عبدالحی حبیبی چهارشنبه ۲۰جنوری ۲۰۲۱

# پروفیسور نکلسون



د اروپا په پوهانو کي چي شرقي علومو او مخصوصاً یې اسلامي پوهنو ته ښکاره خدمتونه کړي دي، یو مشهور مستشرق نکلسون دئ، چي د ده شهرت د اسلامي تصوف او صوفیانو په پېژندنه کي ډېر دئ، او ډېر د اسلامي تصوف کتب یې ترجمه او خپاره او چاپ کړي دي.

د ده پوره نوم رینالډای نکلسون دئ، چي په ۱۸٦۸ ع کال د اګسټ پر نونسمه زیږېدلی دئ، پلار یې هنري ایلین نکلسون (ایم، ډي، ایف، آر، ایس) په ایبر ډین پوهنتون کي د طبیعاتو د تاریخ پروفیسور و، پخپله نکلسون هم په ایبرډین او کیمبریج کي لوست وکړ، په ۱۸۸۰ او ۱۸۹۰ ع یې په یوناني ژبه ځیني نظمونه وپبودله او لوی انعام یې واخیست.

ده په ۱۸۹۰ ع د زړو علومو ښانګه په امتیازي ډول پاس کړه او په ۱۸۹۲ ع یې د هند د ژبو امتحان په امتیازي ځبر ورکړ، عربي یې له رابرټس سمت څخه ولوسته او بیا یې په استربرګ او لیدن کي تکمیل کړه.

دده پلار هم د عربي یو فاضل سړی و، نو ځکه له کوچنیوالي څخه ده ته د اسلامي ادبیاتو د مطالعې ذوق پیدا سو او یوه بل مستشرق براون د ده دا ذوق وربشپړ کړ.

په ۱۹۰۱ ع د لندن په یونیورسټي کالج کي د فارسي ژبي په استادۍ وټاکل سو او په ۱۹۰۲ ع یې

salamwatanam@gmail.com

له دې کاره استعفی وکړه او د کیمبریج په پوهنتون کې د فارسي ژبې استاد مقرر سو، تر ۱۹۲۶ ع پورې د براون په ملګرې هلته د فارس په تدریس مشغول و، او تر ۱۹۳۳ ع وروسته له دې پوهنتونه بېل سو.

د ده د مطالعاتو موضوع د اسلام تصوف و، او په خاص ډول یې د مولانا جلال الدین بلخي رومي د مثنوي مطالعه کوله، ده د خپلو تحریراتو آغاز او انجام د مولانا په آثارو سره کړی دئ، لومړی کتاب یې د (شمس تبریز د دېوان انتخاب) دئ، چې په ۱۸۹۸ ع یې چاپ او خپور کړ، آخرنی کتاب یې هم د مثنوي شریف د دریم او څلورم دفتر شرح ده، چې په ۱۹۴۰ ع کال چاپ سو.

نکلسون غوښته چې د مولانا مکمله سوانح ولیکي او د مثنوي شریف لساني او ادبي تاریخي خواوې وپلټي په دې سلسله کې ده اته کتابونه کښلي دي، چې شل کاله پرله پسې په دې خدمت مشغول دئ، علاوه پر دې یې لاندې کتب هم چاپ کړي دي:

تذکرة الاولیاء، چې د شیخ عطار اثر دئ، لومړی ټوک یې په ۱۹۰۵ ع او دوهم ټوک یې په ۱۹۰۷ ع له قلمي نسخو څخه په خورا صحت چاپ او خپور کړ.

کشف المحجوب، د علي هجویري چې دا کتاب یې په ۱۹۱۱ ع په انګلیسي ترجمه او چاپ کړ.

د ابن العربي ترجمان الاشواق، په ۱۹۱۱ ع ترجمه او تحشیه کړ.

په ۱۹۱۴ ع یې د اسلامي صوفیانو Mystics of Islam کتاب خپور کړ.

کتاب اللمع چې په ۱۹۱۵ ع یې د دغه کتاب مضامین لنډ په انګلیسي وکښله.

په ۱۹۲۰ یې د علامه اقبال اسرار خودي اقتباس کړه.

په ۱۹۲۱ کې یې د اسلامي تصوف مطالعات شرو کړه، چې په انګلیسي یې Studies of Islamic Mysticism وباله، دا کتاب د اسلامي تصوف ښه معلومات لري.

په ۱۹۲۳ ع یې یو کتاب وکیښ (په تصوف کې د ذات تخیل).

د ده له نورو آثارو څخه (د عربي ادب تاریخ) ډېر مشهور دئ، چې په ۱۹۰۷ ع کې خپور سو.

نکلسون په اسلامي دائرة المعارف کې ځیني ښې ښې مقالې لیکلي دي، چې خورا اهمیت لري او ډېر نور آثار او رسالې هم ده لیکلي او خپرې کړي دي. نکلسون د صبر او استقلال او زیار او زحمت خاوند و، ټول عمر یې په علمي څېړنو کې تېر کړ او شرقي او اسلامي علومو ته یې ښکاره خدمتونه وکړه، بلکې د اروپا او شرق تر منځ یې یوه د اخوت رشته پیدا کړه او اسلامي علومو ته یې نوې دنیا ملتفه کړه او له دې لارې یې یو بین المللي شهرت وګاټه. دا عالم یو کال دمخه د ۱۹۴۵ ع کال د اګسټ پر ۲۷مه په انګلستان کې وفات سو او د ده وفات علمي دنیا ته یوه لویه صدمه ده، خاص

بیا شرقي تمدن او اسلامي علوم د ده له وفاته متأثر دي.

کابل مجله، ۱۳۲۵ ش کال، دریمه گڼه، ۷۰ مخ.

پای